**لنډيز**
ټولنيز عقلانيت د اروپا په نويو پېړيو کې له مشخصو ځانګړنو سره مطرح شو. وروسته بيا د ژوند د هرې برخې د تجربو سره برابر ارزول شوی او کنټل شوی دی. يو وخت په نړۍ کې د مذهبي او سنتي کړيو لخوا ټکول شوی او رټل شوی هم دی. د يو نوي ګام او بدلون لپاره دغه مسأله روښانولو ته اړتيا لري. په افغاني ټولنه کې د ټولنيز عقلانيت د ودنې اندېښنه په جدي توګه مطرح کېدونې ده. په دې اړوند څېړونکو او پوهانو خاص کار نه دی کړی. د امان الله غازي د نويو طرحو مخنيوي ښيي د نه عقلاني ودې او سنتي عرف د ساتنې په موخه پاځون درلود. دا ليکنه په دې ده چې څنګه ټولنيز عقلانيت په اوسنيو شرايطو کې وده نه کوي. د مفروضاتو او ټولنيزو شرايطو په پام کې درلودلو سره د ټولنيز عقلانيت د پاتې کېدو لاملونه په ګوته شوي. مدرسې د نمونې په توګه د هغو چاپېريالونو استازيتوب کوي چې هلته د ځانګړو مفروضاتو د شتون او د ټولنيزو شرايطو له مخې ټولنيز عقلانيت وده نه کوي. فرضيه دا ده چې د خاصو مفروضاتو منځ ته راتلنه او د ټولنيزو ځانګړو شرايطو اغېزې هغه ډول ډياليکتيکي تجربې را نغاړي چې په وچو او محضو باورونو ختمېږي. د داسې يو تحقيق لپاره د مرکو او اسنادي روشونو څخه کار اخيستل شوی. موخه دا ده چې وپوهېږو دغو چاپېريالونو کې د ودې او هيلو ته د رسېدو لپاره خنډونه شته دي، بايد د هوارۍ فکرونه يې وشي. نتايج دا دي چې مدرسو کې څوک نه هوښيارېږي او هلته د ټولنيز عقلانيت عرفي او سيستماتيک مخنيوی کېږي.
**اصلي مفاهيم**: مدرسه، ټولنيز عقلانيت، ښوونځی، مفروضات (فرضي باورونه).

# عقل او مدرسه

## په مدرسو کې د ټولنيز عقلانيت د ودې عرفي او سيستماتيک خنډونه!

**محمد. ض. شمس**

## سریزه

د ټولنیزو علومو د ودې په بهیر کې د ټولنیز عقلانیت بحثونه هم مطرح شول. ټولنیز عقلانیت د ټولنو د ودې او عمومي پرمختګ او سوله‌ییز ژوند له ارزښتونو وګڼل شو. د ځینو پوهانو له نظره ټولنیز عقلانیت تر ټولو ډېر واضح او جذاب مفهوم دی چې د ټولنې د روښانه او ګټورو معیارونو څرګندویي کوي. په ټولنپوهنه کې دغه بحثونه د ***ماکس وبر*** (۱۸٦٤-۱۹۲۰) په نظریاتو کې تر نورو روښانه راغلل. څلور ډوله عقلانیت (عملي، نظري، ذاتي او صوري) هغه په ګوته کړي وه. وبر باور درلود چې دغه څلور ډوله چې د هرې ټولنیزې سطحې سره خپل ځانګړی ځای لري، که سره همغږي شي، نو کوی شي د تمدن یو ځانګړی شکل منځ ته راوړي چې د په غربي تجربه کې د انسان لپاره دغه ژوند د ډېرو نوو ارزښتونو او ښېګڼو استعداد درلود.

د *وبر* د افکارو له مخې ټولنیز عقلانیت په شرقي او غربي هیوادونو کې توپیر لري. هر لوری د خپلو ارزښتونو او ټولنیزو موقعیتونو سره برابر یو وضعیت ته رسېږي، د همغه وضعیت په پام کې درلودلو سره هغو عناصرو او معیارونو ته رسېږي چې تر ټولو ښې لارې چارې د ښو موخو ته د رسېدلو لپاره کاروي. هر څومره چې عقلاني کېدنه غځېږي او یوه ټولنه په سختۍ عقلاني کېږي، ستونزه یې په ارزښتونو کې وي نه په ګټو کې. د وبر د ویناؤ له مخې ځینې چلندونه په ارزښتونو ولاړ وي ځینې پر منافعو. اما مونږ د ټولنیز عقلانیت هغه تعریف چې ټول ټولنیز وګړي کولی شي داسې روش، موخې او چلند غوره کړي چې د ټولې ټولنې د دنیایي، اخلاقي او علمي ښېګڼو لپاره ګټور وي، یو بل ته ډاډ او باور ایجاد کړي، را اخلو. د دغه تعریف له مخې ټول وګړي دا توان لري چې عقلاني وده وکړي او عقلاني چلند ولري.

نن اړتیا دا ده چې ټولنه او ټول وګړي یې تر ممکن بریده د هغو قواعدو او ارزښتونو ملاتړ وکړي چې آسانه وسایل او نژدې او واقعي موخې سره همغږي کوي. واقعي منافع سره تنظیم شي او ټولنه د یو هغه شمېر لاملونو چې د بدمرغیو لپاره په ګوته کېږي په خپل لاس او عقل را ووځي. په دغې لیکنه کې د عقلانیت د نه ودې لاملونه او شرایط څېړل شوي دي او مدرسه د ټولنیز عقلانیت د نه ودې د یو مثال په توګه ښودل شوې.

## ټولنيز عقلانيت د يوې موضوع په توګه

ټولنيز عقلانيت يو ټولنپوهنيز مفهوم دی چې د يوې ټولنې د وګړو د ګډې ځانګړنې ربنه لري (عضدانلو:۱۳۸۸). دا عقلانيت هم تاريخي دورو کې د بېلو بېلو کيفيتونو څرګندونې لري او هم په ټولنو کې د بنسټيزو توپيرونو درلودونکی دی. يعنې هم د هرې ټولنې عقلانيت او هم د هرې زمانې عقلانيت توپير لري. کومې ټولنې چې د دينداری دعواوې لري، له خپلو باورونو سره د يوه ژور او اساسي دوه‌ګنې (دوګانګی) سره مخ دي: دنياواله (دنياګرايي) او آخرت واله (آخرت ګرايي).

***تدبنټون*** او ***يان کرايب*** د **ټولنيز تفکر په فلسفي بنسټونو** کې ليکي:

> عقلاني امر په نړۍ کې پر وګړنيز غبرګون د لارپوهېدنې په توګه او د ډول ډول فرهنګونو د تحليل او پوهېدنې د ميتود په حيث مهم ګڼل کېږي. بيا د ټولنيزو چارو د څه‌ولۍ (ماهيت) په هکله د کره کتنيزو حکمونو د ورکولو او د اخلاقي سيستمونو د پرتلې چارې ورسره ممکنې شي.

**تدبنټون او يان کرايب، د ټولنيز تفکر فلسفي بنسټونه، ۲۲۱مخ.**

د هرې ټولنې د واقعي ژوند له بهير سره ګډ بايد يوه فلسفه! يا شته عقلانيت لاس يو کړي، تر څو د ټولو اجتماعي بنسټونو سره ټولنيز عقلانيت همغږی وي. مطلوبه ده چې د هرې ټولنې واقعي اړتياوې له عقلاني کانالونو څخه د هوارۍ برید ته ورسېږي. له دې پرته غوښتنې ناواقعي او له احساسي بهيرونو حل کېږي. مدرسې تر ښوونځيو او پوهنتونونو له جدي توپيرونو سره يوازې د ارتباطي ـ ذهني وضعيت او عقلانيت په ډګرونو کې زيږ خواص لري چې يو له بله بېلېږي. زه په دغه مدرسه يي او مکتبي جهان کې د داخلي فضا نه اغېزمن محصولاتو ته هغه هم په انساني وجود کې د ننه يعنې د عقلانيت ټولنيز ډول ته پام کوم. هڅه به وشي په دغې څېړنه کې چې د مدرسې د زده کړيالانو او د پوهنځي او ښوونځي محصلانو تر منځ ټولنيز عقلانيت د څرنګوالي پوښتنې مطرح او يو څه يې د ځوابولو لپاره زمينې خلاصې شي.

د ټولنيز عقلانيت د ودې لپاره د مدرسې او ښوونځي فضا څرنګه ګټور واقع کېدلی شي؟ ورسره به په غير مستقيم ډول دا پوښتنې چې په کوم ټولنيز وضعيت کې عقلانيت وده کوي؟ او د ټولنيز عقلانيت په هکله د مکتب او مدرسې زده کوونکي کوم ليدلوري لري؟ وځوابېږي.

په دې څېړنه کې فرضيه دا ده چې د زيږو او غيرضروري مفروضاتو د شتون او د ټولنيز خاصو شرايطو تر اغېز لاندې مدرسې د عقلاني ودې جوګه نه دي. نن له ډېر پخواني ټاکل شوي مسيره سره برابر دغه مدرسې له اسلامه داسې واټنونو کې قدم اخلي چې د اسلامي عقايدو اصلي او سالمه څېره تر سوال لاندې راولي. هڅه کوم دا ثابته کړم چې څوک مدرسو ته ورځي هلته د ټولنيز عقلانيت له ودې محروم دی.

#### ټولنيز عقلانيت څه دی؟

***لوسين لوی براول*** په خپلې مشهورې ليکنې **«د ذهنيتونو مسأله»** کې ليکي:

> عقلانيت کله د کوډو يا د هغو فکري ډولونو په وړاندې کارول کېږي چې په ناآزمېښت شوې توګه منل شوي دي، يا د يوه شخصي معناداره ليدلوري او کله هم د يو شمېر غلطو څرګندونو په مقابل کې کارول کېږي.

**لوسين لوی براول، د ذهنيتونو مسأله، ۴ مخ.**

عقلانيت په بېلابېلو او دقيقو معناګانو دلالت لري. مشهورې معناګانې يې:

کله عقلانيت د چلند، کله د يو باور او کله هم د يو ارزښت د صفت لپاره استعماليږي. يعنې کله يو عمل معقول وي، کله يو ارزښت او کله هم يو باور. دا عقلانيت د همغه ارسطويي نظره د انسان يوازينی توپير دی چې له حيوان سره بېلولی شو. عقلانيت په معرفت پېژندنه کې پر

ډولیز او وسیله یي شکلونو وېشي (قایمي نیا: ۱۳۸۹). له یو بل اړخه عقلانیت په نورو ډولونو هم وېشل کېږي چې د ټولنیز ژوند لپاره یې تر ټولو اوچت او معلوم ډول *ټولنیز عقلانیت* دی. ټولنیز عقلانیت همغه انساني څواکمنتیا ده چې د اړیکو درلودلو، سنجولو او ګټولې په چارو کې له مونږ سره د یو ټولنیز وجود په توګه مرسته کوي. د وبر له نظره عقلانیت یو غیرمادي اصل دی چې د وګړو د چلندونو دلایل ورته روښانه کوي. د هغه له نظره هوښیار وګړی همغه دی چې د خپلو چلندونو په معنا، ارزښت، دلایلو او علتونو وپوهېږي. دا چې څنګه څوک موخو ته د رسېدو لپاره عقل کاروي، د ټولنیزو موخو او ګټو په ترلاسه کولو کې اجتماعي عقلانیت ورسره څنګه مرسته کوي (وبر: ۱۹٦۲).

مونږ په دغه تحقیق کې ټولنیز عقلانیت د وګړو هغې وسې ته وایو چې په اړیکو کې د خپل ټولنیز ژوند د مانا، ارزښت، دلایلو، موخو او علتونو په هکله کارول کېږي. لږ تر لږه یو وګړی پوهېږي چې ولې دا چلند ترسره کوي، ګټه یې ورته څه ده او نورو سره یې پر اړیکو څنګه اغېزې لري.

**مدرسه:** هغه ښوونیز مرکز ته ویل کېږي چې د دیني زده کړو په موخه جوړ شوی وي، ادعایې دا وي چې د اسلامي معتقداتو سره برابر او د اسلامي ارزښتونو او علومو په خپراوي او د دیني علماؤ د روزنې په ډګر کې رول لوبوي، دیني علماء او مولوي صیبان او قاریان یې استادان وي. له دغو ځایونو تمه دا کېږي چې خلک په اسلامي ارزښتونو وپوهوي او واقعا د غیردیني مراکزو سره په علمي سطحه سیالي وکړي. د حق او باطل د مبارزې لپاره قلمي او فکري معقولې هڅې وکړي او د اسلام جوهر د انسانیت په وجود کې تمثیل کړي. دا چې په دغو مراکز کې کوم کتابونه ولوستل شي، یو مدرسه یي فارغ باید کومې علمي سطح کې وي، یو مطلوب شخصیت چې مدرسې ته ننوځي او بیا د فراغت پر مهال وځي کوم مهم خصوصیات یې په وجود کې ورزیات شوي وي او انسانیت ته یې د کوم خدمت تفکر زده‌کړی وي؛ هغه پوښتنې دي چې هېڅکله به یې د سالم او منظم ځواب د موندلو لپاره په دغو شرایطو کې مثبت ځوابونه تر لاسه نه شي.
مدرسې د عرف له مخې منل شوي ښوونیز ځایونه دي. یعنې د ټولنې توقع هم له دغه وضعیته پوره نه وي، ها خوا، مونږ د مدرسو په شتون هېڅکله دا محاسبه نه ده کړې چې څه ترلاسه کوو.

**ښوونځی:** په رسمي مانا هغه ښوونیزو ځایونو ته ویل کېږي چې د حقوقي او اداري تشکیل له مخې د چلوونکو، ښوونکو او زده کوونکو په درلودلو سره د پوهنې د تشخیص شویو موخو سره برابر نصاب پرې تطبیقېږي. دولس کلونه او له ۵ تر ۱۹ مضمونونو په هر کال کې له پیلیزو تر پایلیزو کلونو پورې پکې ښوول کېږي. موخه یې په وروستیو کلونو کې ټولنې ته د هغو وګړو ورسپارل دي چې لږ تر لږه د یوې مسألې پېژندنه او هوارونه یې په لاس کېدونې وي. د ځانګړي یونفرم او علمي ارزول شوي نصاب درلودونکی وي او د نظارت او پلان له مخې په پرلپسې توګه دولس کلونه په ۲۴ نیم‌کاله کې تطبیقېږي.

**فرضي باورونه:** په وګړو کې د چارو، ګډ ژوند، ارزښتونو، ماناګانو او هستۍ په هکله مفروضات یا همغه (مخکیني باورونه) دي. دا باورونه د ټولو چلندونو په لمړۍ لایه کې په حتمي توګه موجود دي. هر څوک چې یو عمل ترسره کوي نو تر هغه عمله وړاندې به یې ځینې څه په فرضي توګه منلي وي. دا همغه بنستیز باورونه دي چې افکار او احساسات ټول پرې ولاړ او پرې تکیه کوي. د ټولو وګړو دغه ابتدایي باورونه د دوي د روزنې، چاپېریال سره په تعامل، ډیالکتیکي تجربو او عمري اخیستنو څخه منځ ته راځي.
ټولنپوهنه وایي چې دا ټولنه، کورنۍ چاپېریال (مور، پلار او د کورنۍ نور غړي) دي چې ماشوم ته دنیا تعریفوي، کارونه او نومونه ورته ښایي او هستي ورته د پېژندلو وړ ګرځوي. که دوي نړۍ بده وپېژني نو ماشومان یې بده اخلي؛ که چلند ښه وګڼي نو هغوي یې ښه نني کوي.

## مخینه

د اسلامي تاریخ له دویمې او درېیمې پېړۍ را دې خوا ځینو فکري بهیرونو د یوناني تفکراتو تر اغېز لاندې وده وکړه. په دغو علمي پرمختګونو کې عقلي جوهر د یو مشترک اصل په توګه د پام وړ ګرځېدلی شي. هغه څه چې وروستیو د عقل او نقل تر عنوانونو لاندې د کفر او اسلام لمنې ورته خورې کړې. له یو اړخه فقیهانه پوهېدنه د دین اصلي پوهېدنه ګڼل شوې او د ابن رشد او فارابي او ابن سینا هڅې چې عقلي او فلسفي محوریت یې درلود، تر زیاته بریده غلطې او کفري بلل شوې دي.

ډاکټر ***ذبیح الله صفا*** په خپل کتاب (**اسلامي تمدن کې د عقلي علومو تاریخ**) کې داسې څه لیکي:

اسلامي پوهانو په ځینو مسائلو لکه ریاضیات، ستورپوهنه او طب کې تر پخوانیو او یوناني او اسکندري پوهانو مختګ وکړ. یعنې ځینو نویو مسائلو ته یې لاس ورسېد؛ داهم د یوناني او هندي پوهنیزو روشونو د ګډوالۍ‌له کبله وو. زیات یې پر یوې موضوع باندې د ګڼو کتابونو د ژباړو، او د ډول ډول ژبو او پوهانو د تمرکز له وجې وو او لږ یې د اسلامي پوهانو د تفکر نتیجه وه.

**رضا روحاني، حافظ میاشتنی، ۲۳ ګڼه، دنیاګرایي و آخرت ګرایي.**

فارابي به فقه د احکامو د زده کړې اجتهادي او هڅونیزه پوه ګڼله. پر دغه بنسټ، فقه باید د شریعت یوه عقلاني پوهېدنه وي. ځینو بیا فقه د احکامو مطلق ګڼل نه دي ښوودلي بلکې وايي: پر احکامو د استدلالي علم درلودلو ته فقه وايي. دغه ځای مهم ټکي شته دي: ۱) فقیه چې کله پر نورو اعتراض کوي د خپلې عقلي پوهېدنې وضعیت سره برابر او د بل د عقلي پوهېدنې د عمل او پوهې پرتله کوي او بیا وايي چې دا احکام دې زما د پوهې سره هم برابر یا نابرابر اخیستي دي. اما دلته زمونږ علمي ـ فقهي مراکز ټول د احکامو له پوهېدلو احکامو ته واوښتل چې له هماغه پیله یې د عقلي بحث میدان ور تنګ کړ او یوازې یې خپلو رأیو ته ځای تش کړ. ۲) د سیاسي او درباري اړخونو د فقهې حاکمیت او استعمال کولی شول شرایط د اطاعت او حکمرانۍ لپاره چمتو او مناسب وساتي. پر دې بناء له ځانپالو خلفاؤ را نیولې تر وروستي درباري شخصه پورې چې په یوې زمانه کې به وو له اسلامي فقهې څخه یې زیاته ګټه همغه تجاري او سیاسي وه. ځکه خو نتیجه ټوله دا شوه چې فقه د واقعي او اصلي پوهېدنې په نامه د احکامو په قالب کې تاریخي ځای ځان ته وګوري. ۳) ژبنته بده روحیه ورسره منځ ته راغله او هغه دا چې پر احکامو پوهېدنه ثابته وګڼل شوه او د زده کړې لپاره مواد کره وګڼل شول او د دغو موادو په هکله د باورونو آزادي له منځه یووړل شوه. دا په غیرمستقیم ډول خو ستر او اغېزناک کار په توګه له ابن تیمیه را نیولې تر اوسني مصري او اخواني او عربي او پاکستاني سیاسي دینداری راغځېږي.

نور نو د درېیم او څلورمو قرنونو په فضا کې دومره کلکه فقیهانه فضا منځ ته راغله چې ځینې یې د صوفیانو په نامه د خپل برداشت مخالف تربیه کړل او اصلا یو باور همدا دی چې تصوف د فقهي او غیرعقلاني باورونو د حاکمیت یو جبري عکس العمل دی چې په انزوا او له دنیا تېښته کې څرګند شوی دی.

ځینې داسې هم شوي دي چې د عقل او دین تر منځ جدي مقابله منځ ته راغلې. تر همدې وروستیو پورې د عارفانو او فیلسوفانو او فقیهانو شخړې ناهوارې پاتې او د علامه اقبال ویناوې هغه کوشش ښیي چې د عقل او عشق تر منځ سوله کول څرګندوي. ورسره دا جنجال تر زرو کلونو زیات عمر لري او اسلامي فقهې ته یې ځانګړی رقم ورکړی دی. دا جنجال د فلسفې او عقلانیت په دنیا کې ***روحاني*** داسې ښیي:

فلسفې په ځینو پېړیو کې د یو ځانګړي فراغت له مخې چې په نسبي ډول ځینو پوهانو ته ور په برخه وو، وده کړې ده. ... زمونږ ستر فیلسوفان په دې غم کې پاتې ول چې د دین او عقل تر منځ دواړه وساتي. اما دا څرګنده ده چې زیات وختونه کله چې دین مطرح شوی عقل خپل ځای ورته پرې ینبی دی. ... د اسلامي فلسفې د تاریخ یوه باندنۍ څېړنه دا ښیي چې معمولا ټولې دا جوړوونکې هڅې د فقهې په ګټه او د عقل په ویر او تېښتې پای ته رسېدلې دي.

**رضا روحاني، حافظ میاشتنی، ۲۳ ګڼه، دنیاګرایي و آخرت ګرایي.**

هلته د ترکیې لمړنی ولسمشر کمال اتاترک د ملی والي او پرمختګ لپاره دیني علماء او روحانیون ووژل. دا چلند نه شي کېدی په عقدو، کفر او دیکتې سره توجیه او تفسیر شي، بلکې واقعیت دا دی چې د یو بدلوونکي مشر په توګه یې د ټولنیز عقلانیت د بدلون لپاره دغه ډول چلند ته اړتیا وه (آتام، ۲۳، ۱۳۹۳). د امان الله خان هڅې په دې اړه ناکامې شوې او دلته د ټولنیز عقلانیت د ودې لپاره هغه شرایط برابر نه وه.
د پوهنتون او مدرسو تر منځ ځینې څېړنې شوې دي. دا کار په ایران کې په مهمه بڼه مطرح شو. له فرانسې څخه یې فرمونه راغلي وو او ایرانیانو د حوزې او د پوهنتون د نږدې کېدو طرحو باندې ځو اړخیز کار وکړ چې هڅو یې نتیجه ور نه کړه او هلته هم اصلي علت د مدرسه یي افکارو له خوا وو چې ممانعت او فاصله یې مهمه ګڼله تر څو خپل ځان د نورو دوزخیانو او دنیاپرستو زده کړیالانو لرې وساتي!
د ایرانیانو مذهبي مشر په یوې وینا کې د حوزې او د پوهنتون تر منځ د واټن د کمېدا لپاره دین او دنیا دواړه مهم او ضروري بللې وه. خو تر نن پورې ډېرو متفکرینو ته تر ټولو ځورونکي مسأله د حوزویانو هوښیارول دي چې نه دي شوي.
نن په اسلامي هیوادونو کې دغې مسألې ته هېڅ د روزنې او ښوونې په بهیرونو کې پام نه کېږي چې د ځوانانو د نننۍ او بهرنۍ تربیې لپاره څه اړین دي. یا لږ تر لږه د مدرسه یې ځلمي نه د یو ټولنیز فعال انسان په توګه څه غوښتل کېږي او د یو مکتبي نه څه! حکمتیار په خپلو ځینو لیکنو کې آرماني هغه خبرې هم وړاندې کړې دي چې غواړي د مدرسې او مکتب تر منځ فاصله ورکه شي او مدرسه یې مکتبي شي او مکتبي مدرسه یي! خو په ساده ژبه یې د خبرو معنا دا کېږي چې ټول باید په دیني علومو هم وپوهېږي او په دنیایي علومو هم.
نن په ډېر وحشتناک ډول دغه فاصلې د نه هوارۍ تر بریده رسېدلې دي. نن څوک حتی دا فکر نه شي کولی چې یو مدرسه یي دې دومره روښانه شي چې د پوهنتون د خلاصو افکارو د زده کړې لپاره شپه او ورځ یوه کړي. بلکې برعکس، د دې وېره شته چې د ځینو خاصو مفروضاتو له مخې پوهنتونیان د مدرسه یي افکارو له احساسي فحوې سره ځان و نه بایلي. دوي د مدرسې ښکار نه شي.!

## لیدلوري او زده کړنیز چاپېریالونه

د یو خام او عام فکر په توګه دا باور د مطرح کېدو دی چې خلک مدرسه د دینداری مرکز انګېري او مکتب د روښانفکری او دنیاوالي او کفري فکریاتو مراکز. ځینې تحلیلونه په وروستیو کې دا ښیي چې تر پنځوس سلنه عوام په دې فکر دي چې ځوانان یې هم مسلمان پاتې شي او هم مدرسه و نه وایي او مکتب او پوهنتون ووایي. ځینې مرکې مې اورېدلي دي چې مکتب او پوهنتون ته د ورتلو کفر بیانوي او د نه ورتلو لپاره یې شکر کوي. دا ټول یو شمېر احساسات وي چې د تقوي په سپېڅلي مفهوم کې ځان را نغاړي او د ساده باورو مسلمانو په ذهن کې د تقوی سمبول مولوي صیب، قاري صیب او چړي صیب وي. دوي نه که لږ په معقول ډول وپوښتی چې ځوانان مو غواړۍ څنګه وروزل شي همدغه شان چې ستاسو ملا او قاري دی!؟ په طبیعي ډول وایي چې زمونږ ملا عالم دی، د خدای دوست دی او ښه ده چې هغسې وي.
د دغه شان فکر د جوړېدو او ټولنیز عقلانیت د ښوودلو لپاره دغې تجربې او کیسې ته مو پام را اړوم. ما دوه کاله وړاندې د یوې خصوصي راډیویي شبکې سره کار کاوه. هلته څو دیني عالمانو او یو شمېر زیاتو ځلمیو او ښکلو تکړه او بافکره هوښیارو محصلینو دندې درلودې. دوي ټولو خپرونې درلودې. د اورېدونکو د وضعیت انعکاس د دوي په هکله ماته زیات جالب او سَرَه تجربه وه. ځینو پېغلو له دغو چلوونکو سره عاطفي ترونونه پیدا شوي وو. دوي د دغې شبکې دیني کارپوهانو ته دا پیغام رسولی وه چې له دوي سره د واده کولو غوښتنه لري. په پښتنه اصطلاح پر مولوي صاحبانو باندې به یې غږونه کول چې ورسره مینه لري. دا چې دوي به ورته د خپلو عمرونو، اولادونو او شرایطو سختي بیان کړه نو سره د هغو به یې هم ویل چې ورسره د ژوند کولو لپاره چمتو دي.
ماته دا پوښتنه تر اوسه په ډېر جدي ډول مطرح ده چې ولې یې دا نور ښکلي غږونه، ښکلي ځلمي، مجرد، هوښیار، کمالګر او نوي نسل د ګډ ژوند لایق نه ګڼه چې هغه سپین ږیري، مشران، دیني عالمان به یې د ځان لپاره مناسب ګڼل؟! نن یې د ټولنیز عقلانیت په عینکو او د ټولنیزې ودې او عقلي مختګ پر چوکاټ داسې حلوم چې دوي دیني او ارزښتیزه وده کړې وه او هغه هم د شته او تحمیلي ارزښتونو او فرهنګي چوکاټونو په قالب کې. د دوي کوچنیوالی په همدغه ډول ودې او تربیې تېر شوی او دا دی نن چې ځوانان دي ورته د دغه عقلانیت پر معیار د دې تلې هغه خوا درنه او ښه ښکاري.

دوي په هغو چاپېریالونو او ښوونیزو مراکزو کې وده کړې وه چې عواطف او احساسات پکې روزل شوي وو او تلقین او تکرار او تقدس د هرې شېبې ویاړنه وه. د دوي د روزنې په سیستم کې د ټولنیز عقلانیت او آزادۍ او د ذاتي او اصیلې هوښیارۍ نښې نه ښکارېدې. بناء دا فرضیه نوره هم د اثبات لپاره میدان خلاصوي چې په مدرسه یي، کلیوال او داسې محیطونو کې عقلانیت وده نه کوي. که څوک په دې تمه خپل ځلمي او پېغلې په دغسې ځایونو (کورني احساسي او مقید سیستم یا مدرسه یي او جهاني ښوونیز سیستم) کې روزي چې دوي به هوښیار شي او د ټولنیز عقلانیت تر پولې به ورسېږي او وده به وکړي، دا خوب او خیال دی او دا دی د مدرسو معیارونه او شته فضا دا هر څه ثابتولی شي.

ښوونځي د یو سیستماتیک او منظم تشکیل او پلان له مخې کولی شي یو شمېر هغه ډول ډیالیکټیکي تجربې منځ ته راوړي چې وګړی پکې کولی شي د ذهني آزادۍ، عقلي احساس او عقلاني انتخاب ممکنې او لازمې خلاص لاسنې ولري. د هرې ټولنې په تاریخي او ټولنیز عقلاني وضعیت کې ښوونځي او پوهنتونونه کولی شي مثبت رول ولوبوي. د نړۍ په کچه تر ټولو ښه معیارونه د ژوند د ښه کېدو لپاره د تجربي علومو د زیاتونې اصل او پر عقلاني وده یې تمرکز بلل کېږي.

په ښوونځیو کې یو بل منل، فرهنګي توپیرونه درکول، نوي ارزښتونه منل، ژبې زده کول، موضوعي او هدفمن فکرونه درلودل، متنوع او ډولیز موډلونه مطرح کېدل، آزادي محسوسول او بالاخره یو موخیز مسیر طی کول دي. ټوله نتیجه یې د آرمان له مخې د یوې مسألې د حلولو د توانمندۍ لېږدول دي او په عملي دول یې نتایج د یو با سواده او څو اړخیزه ځلمي جوړېدنه ده چې د مضمونونو له لارې کولی شي بېلې بېلې دنیاګانې تجربه کړي. زده کوونکي د قضاوتونو، حکم کولو او باالآخره د مفروضاتو او ټولنیزو شرایطو په یو خلاص نظام کې واقع کېږي. ښوونځی ځاص ډول مفروضات منځ ته راوړي، د مادي او غیرمادي له تناقض څخه مخنیوی او یو ډول عمومي همغږۍ او تدریجي تفاهم ته رسېدنه او تر ټولو مهمه یې دا چې د ژوند لپاره تخصصي ګامونو ته په دقت سره ګوري. اما مدرسه ...

## د مدرسې عینکې!!

د مدرسو له کړکیو څخه دنیا څنګه ښکاري!؟ خلک څه ښکاري او وضعیت څرنګه؟

دا هغه پوښتنې دي چې په زښت حساسیت او دقت سره باید ځواب شي. مونږ مخکنیو باورونو یا مفروضاتو ته په پام سره کولی شو د جهان په هکله قضاوت او دریځ خپل کړو. دا چې دنیا ښه ده که بده ده، د ماشومتوب هغو تجربو او زده کړو پورې ورګرځي چې پلار او ملا صیب را تعریفاوه. هغوی به ویل دنیا بده ده، پیسې د لاس خیرې دي، هر څومره چې ډېره شي انسان بس نه وایي!، هر څومره چې ډېره شي امتحان یې سختېږي. که دنیا کې وفا وی نو څوک به نه مړه کېدل، له هېچاسره وفا نه کوي او چاته بقا نه لري. که ملکیت ښه څیز وی نو فلاني سره به ګور ته تللی وه!! دې ته ورته په سلګونه شعرونه، مقولې، ضرب المثلونه او ذهني منفي انعکاس دی چې د یو مدرسه یي نوي ځلمي د ژوند پلیزې تجربې را جوړوي، د ده ذهن ډکوي او د ده مفروضاتو ته شکل او هستي ورکوي. دی نوره دنیا ته په همدغو عینکو ګوري، نور نو بیا ورته هر څه چې وښودل یا صلاحیت ورکړل شي نو د دغو معیارونو په پام کې درلودلو سره قضاوت کوي او چلند ترسره کوي.

د مدرسې له روحیې سره برابر زده کوونکی دا زده کوي چې باید هېڅکله د دنیا سهولتونو پسې نه وي. دی باید د اخروي نعمتونو پسې خپل او حتی که لازم وي د نورو ژوند ضایع کړي. د آخرت لپاره هر ډول دنیایي تاوان ورته عادي او هېڅ ښکاره شي. د مدرسې فرهنګ ټول په غیرواقعي ارزښتونو باندې ولاړ وي، که نه نو خدای پالنه خو په هر ځای او هر وخت کې کېږي. د مدرسې ښوونکي ټول هغه کسان دي چې د محرومیت شدیدې تجرې لري. د دوي له نظره د دنیا خلک لکه پخپله دنیا غوندې سفلي او بد او سپک دي. د مدرسه یي زده کوونکي او مدرسه یي ځلمي چلند په ښار کې د سړکونو او بازار په ګټه ګوڼه کې ښکاري.

دلته د عقل او نقل جنګ او تقابل زښت زیږ دی او څرګند ښکاري. له عقله وېرېږي او ورته یو خاین موجود ښکاري. نن همدوی نه شي تابتولی چې له نقل نه یې مقصد څه دی او آیت څنګه بې له درایته پېژني!؟ زه اوس دغه کره تجاهل ته په زښت حیران نظر پاتې یم. کوم

کار کېدلی شي چې ته هلته عقل هېڅ و نه کاروې او د عقل واک او لاس پکې نه وي!؟ ورپسې د کوم کار په دوام او نتیجې ته رسولو کې څنګه کولی شي له عقله بېل مثبتو او مطلوبو نتایجو ته ورسېږي؟!

اوس دغه پوښتنې چې د مدرسې له کړکیو دنیا او انسانان څنګه ښکاري، د فکر لپاره همدلته تاسو ته سپارم، او را بولم مو د بحث د ادامې لپاره د هغو لاملونو څېړنې ته چې د عقلانیت د نه ودې لپاره زما په نظر مهم ګڼل کېږي.

## ولې ټولنیز عقلانیت وده نه کوي؟

له روانپوهیزو، انسانپوهنیزو او خاصو پراختیایي ټولنپوهنیزو بحثونو را دې خوا په دغه تحقیق کې د پورتنۍ پوښتنې ځواب په دوه برخو کې لټوو. ۱) د مفروضاتو له اړخه د ټولنیز عقلانیت وده؛ ۲) د ټولنیزو واقعي شرایطو له اړخه د ټولنیز عقلانیت وده.

**لمړی: د مفروضاتو برخه:**

**۱. ارزښتونه او باوري شکلونه یو ډول دي.**

دا فرض زښت خطرناک او سخت رواج دی. شکل یې په ټولنیزه علمي فلسفه کې دا ده چې ټول وګړي یو شان ذهني او چاپیریالیزه زمینه لري او په بلې معنا ټول خلک په یوې دنیا کې ژوند کوي! د ټولنپوهنې له نظره دا واقعیت موجود دی چې ځینې وګړي په دې آند دي چې ټول باید یو بل ته ورته شي، توپیرونه را کم شي، یو شان فکر وکړي، یو شان ارزښتونه ومني او یو ډول مبارزه او چلند وکړي. اما له بلې خوا دا پوښتنې د ټولنیزو پوهنو په منطق کې زېږه او وتلې ده چې ولې باید ټول یو بل ته ورته وي!؟

*برایان فې* لیکي:

> مګر د پېژندلو برابره ځواکمنتیا، باورونه، ګډ استدلالي اصول په دې مانا دي چې هغوي هم په همغه جهان کې ژوند کوي چې مونږ پکې ژوند کوو. مونږ نه شو کولی د نورو په اړوند یو مانادراه اړیکه حتمي وګڼو او دا نه شو فرض کولی چې مونږ هم په همغې دنیا کې ژوند کوو او د توکو او مفاهیمو د کارولو میتودونه او اعتبارونه مو همغه دي چې د نورو دي او ورسره یو شی دي. [په دې لیدلوري کې] هغه د نسبیت‌پالنې تز غلط خیژي چې نور خلک په خپلو مانادراه دنیاګانو کې چې زمونږ له دنیا سره زیاته همغږي نه لري ژوند وکړي.

**برایان فې، د ټولنیزو پوهنو ننني فلسفه، ۱۵۹ مخ.**

*جوئل شارون* (۱۹۳۹) د دغې پوښتنې په ځواب کې چې ولې ټول نه شي کولی مونږ غوندې واوسي، څو ځوابي لمنې خوروي. هغه د ارزښتونو مسألې ته اشاره کوي او د ارزښتیزو قضاوتونو خبره مطرح کوي. قومي او سمیه ایز جوړښت هم مهم بولي او پر انساني توپیرونو چې د چلندونو، سمبولونو او مطلوبو وضعیتونو په پېژندلو کې دي تمرکز کوي.

دی د خپلو شننو په پایله کې لیکي:

> زه او تاسو په یو ټولنیز اوبد کې شتون لرو. دا چې مونږ چېرته وخت تېروو او له چا سره ژوند کوو، پر دې چې څوک یاستو او څه کوو اغېزې لري. دا خبره په څرګنده توګه زمونږ ورته والی را کموي. دا زمونږ وضعیتونه به مونږ همداسې بېل ساتي. مونږ باید دا تمه ومنو چې توپیرونه به پاتې کېږي او تل به د پام وړ وي.

**جوئل شارون، لس پوښتنې د ټولنپوهنې له نظره، ۲۱۶ مخ.**

مدرسه يي افکار ټول وګړي په ټولنه کې داسې ګوري چې باید ورته واوسي، ګډ ارزښتونه ومني او يو شانوالی ورکې زیات شي. دوی له دې اړخه هم چې د ټولنیز وجودي واقعیت سره ټکر کوي، په خپلې ټولنیزه عقلاني وده کې پاتې راځي. هرڅومره چې له بېلابېلو قضاياؤ، غوښتنو جاو ارزښتیزو توپیرونو سره مخ کېږي دا تجربه مومي چې خلک باید له يو بل سره توپیر ولري، او دغه توپیرونه د ژوند د دوام استدلال منځ ته راوړي.

**۲. پوهېدنه مطلقه او غیرتاریخي ګڼل کېږي.**

دا پوښتنه په مدرسه يي فضا کې څنګه ځوابېږي چې پوهېدنه تاريخي ده که غیرتاریخي؟ يعنې آيا کېدونې ده چې نن په يو څه باندې يو ډول پوه شو او سبا په همغه څه بل ډول وپوهېږو؟ د ښوونځيو کتابونه تر ممکنه بریده ښيي چې تر پخوا يې فرق کړی دی او دا يو عمومي بدلون را څرګندوي چې زده کوونکی کولی شي باور وکړي، هغه څه چې نن پرې خلک پوهېږي پرونیو ته کشف شوي نه وو. د مدرسې فضا او مدرسه يي ښوونکي ټول د دغه شان فکر سره په تقابل کې دي. برایان فې په خپل کتاب د ټولنیزو پوهنو ننني فلسفه کې يو څپرکی په همدې عنوان خلاصوي چې آيا زمونږ پوهېدنه تاريخي ده که غیرتاریخي. قانونیت باوري او تاریخیت باوري دوه هغه فکري ټولګې دي چې دی يې را سپړي او وايي قانونیت باوري په بشر کې د ثابتو خواصو او په ټولو ټولنو او تاریخونو کې پر ورته اصولو ټینګار لري. قوانین عام، يو ډول، د تکرار وړ، وختپورې (فرازماني) او پر ټولو يو شان ګڼي. مګر تاریخیت‌باوري قوانین او باورونه او فرهنګونه، خاص، نسبي، فردي، نوي کېدونکي، وختيز او ناورته بولي.

کله چې مونږ قانونیت باوري لرو نو پایلې يې جبرا د قرآن او حدیث او ديني روایتونو ثابته پوهېدنه او بې شکه پوهېدنه ګڼل کېږي. هر څوک چې په ديني مدارسو کې د ديني علومو زده کړې کوي تر دې چې په مکتب او پوهنتون کې همدا زړه کړې کوي، پر دې باور اخته وي چې دغه پوهېدنه دقیقه، سمه، واقعي او همغه لازمه پوهېدنه ده چې ده ته ور په برخه شوې. د ډېرو قضاياؤ په هوارولو کې د پیغمبر (ص)، اصحابو او سترو ديني شخصیتونو کیسې او تجربې را نقلوي او همغه شان پرېکړې تکراروي او باور يې دا وي چې هېڅ تاريخ او زمانه نه ده بله او بدله شوې! څنګه کېدلی شي دغسې افکار له عقلاني ودې سره په اوسنیو شرایطو کې مخ شي چې پر ټولنیز او زماني عقلانیت باور نه لري!؟

**۳. عقلي وده په دیالکتیک صورت ممکنه کېږي.**

د چاپېريال، شرایطو، وګړو او وجودي حالتونو سره په ډيالکتیکي تجربو کې دا زمینه برابرېږي چې ټولنیز ممکن صورتونه درک، تجربه او د تفسیر وړ شي. هغه څوک چې له چا سره په اړیکه کې نه وي، نو د اجتماعي ژوند پر نامرئي صورتونو يې پام نه ور اوړي او نه يې درکوي. زمونږ محلي او پخوانۍ ټولنپوهنیزې خبرې چې ځینې يې جالبې هم دي دا خبره داسې راښيي: پیسې پور که او زوی په بازار لوی که. دلته زښته مهمه مسأله د چاپېریالیزو تجربو او واقعیتونو سره د مخامخ کېدو، د قضاياؤ د درکولو او حلولو د ډولونو ذهنیت موندنه ده چې د هغو کسانو د ټولنیز ژوند په فضا کې ممکنه کېږي چې له ګڼو وګړو، پېښو، شرایطو او حالتونو سره مخ وي. مدرسه له هر داسې ډول تجربو نه خلاصه او په يوې معنا بې غمه ځای دی: (يوازې قرآن لوله او احادیث حفظ کړه!). دلته له خپل وجودي او ټولنیز شکل پرته له نورو سره نه مخ کېږي، نه ورته تجربه کېږي او د قضاياؤ په هوارۍ کې موضع ګیري نوره ثابته او يو اړخیزه وي.

**٤. دنیا، مخ په بدېدو ګڼي او تاريخي تکامل يو خرافي باور او کفري خبره بولي.**

يو بل مخکنی باور دا دی چې د ژوند کاروان په کوم مخ روان دی. د مدرسې په فضا کې زده کوونکي د ژوند بهیر مخ په بدېدو بولي. دا به دوی کېدی شي بې له دې چې د قرآن او ټول اسلامي دین روحیې ته پام وکړي د يو يا دوه حدیثونو او روایتونو په رڼا کې حل شوې وګڼي. ما زیاتې خبرې، متلونه، اشعار، فکرونه او د احساساتو غبرګون داسې لیدلي چې ښيي دنیا د بدۍ او ګناه په لوري مزل کوي. مخ په خرابېدو ده. ورځ تر بلې بتري ده. ستونزې مخ په زیاتېدو دي. خلک د خدای په وړاندې ګناه ته شوق مومي. دا فرضیه تر ډېره بریده نن ننګول شوې ده او يوازې ضعیفې ساګانې اخلي خو د دغه شان افکارو او فضاګانو په خلاء کې ورته د ژوندي پاتې کېدو مجال شته دی.

**٥. مدرسه‌يان له ثابتو ځوابونو سره ژوند کوي نه له پوښتنو سره.**

دا مسأله هم د ودې او په ځانګړې توګه د عقلاني او ذهني ودې لپاره او د ژوند د نامانوندنې په بهير کې يوه منځنۍ مسأله ده. ټولنپوهان وايي که د ټولنې زيات شمېر وګړي له پوښتنو سره خپلې شپې ورځې سبا کړي نو فکري او عقلاني وده کوي. دوي کې د ژوند امېد زياتېږي. دوي کولی شي د فکري سترو جهانونو پر کشف او تسخير لاس پورې کړي. که دا وضعيت معکوس شي او خلک د شته ځوابونو سره ژوند وکړي، نو د ژوند کولو دوام ورته بې مانا کېږي. نور نو هيله له منځه ځي او د فکر کولو لپاره د هېڅ اړخ په لوري هڅې نه پاتې کېږي.

ثابت ځوابونه د فرهنګ پوسېدلی، خوټا او تکراري څېره ښايي. د فرهنګي ارزښتونو کالبد زړوي، مرداروي يې او د نه زغملو شی ترې جوړوي. هر کله چې نوې پوښتنې منځ ته راځي د پوښتنو د حل لپاره ميدان غځېږي، يو شمېر وګړي يې د ځوابولو هڅې کوي او بالآخره عمومي بدلانه ته چارې برابرې شي. له ځوابونو سره يو څوک بې له کوم کوښښ، هڅې، خوځښت، بدلون او موخې خپلې شپې او ورځې تېروي. آلماني کره کتنپال ټولنپوهان چې وروسته يې په امريکا کې د انتقادي ټولنپوهنې بنسټ راوړ، تئودور آدورنو، ماکس هورکهايمر او هربرت مارکوزه وو. دوي د فرانکفورت انتقادي مکتب ته وده ورکړه او په دې هکله باور لري چې هره ټولنه کې چې د فعاليتونو ډيناميکي ځانګړنې زياتې او غالبې وي، هغه ټولنه وروسته پاتې کېږي. استاتيکي ټولنې کولی شي د ډلبنديو په لړ کې هغو ارزښتونو ته ورسېږي چې د دوي د دوام لامل ګرځي (رابينګتون او واينبرګ: ۲۰۱۱).

**٦. د مفاهيمو يو اړخيز کول؛ ګټه (اجر) يو اړخيزه ـ يوازې اخروي ـ سنجول کېږي او د دنيا په هکله قضايا او افکار منفي دي.**

ما څو څو ځله په هغو مجلسونو کې ګډون کړی چې د مفاهيم او نوميناليستي وجوهاتو له مخې له اصلي موضوع دومره لرې تللي دي چې بېرته را ګرځول به يې يو مملکت آبادول وو. د هغو له شمېره يو ډول د نومونو او الفاظو په ماحول کې استدلال کول وو. ځينې داسې علماء به په اقناع بوخت ول چې يو لفظ به يې دومره ستر او لوی کړ چې خپله ټوله معنوي او مادي شتمني به يې پکې ورکه کړه. اوس دا باور لرم چې د الفاظو تعريف او خلاصونه په زښته ژوره معنا له قراردادي اړخونو هاخوا د اوړېدلو امکان لري. هر څو کولی شي د خپل شخصي حقوقو په استفادې سره د يو لفظ لپاره دومره ستر جهانونه ايجاد کړي چې ټول خلک پکې را ونغوي. مګر دا به روښانه وي چې دا يو شخصي او مستقلا ذهني چاره ده نه يو ټولنيز او عمومي چلند. يعنې دا معناګانې د شنونکي په ذهن کې دي نه په الفاظو او ژبه او مشترکو سمبولونو کې. په دې توګه دغه مدرسه يي محيط کې د الفاظو سترول، کږول، توجيهات، تحميلات، شخصي کول، ذهني کول، غځول، لنډول او پرېکول يو معمول او آسانه مهارت دی.

د ګناه مفهوم، د ثواب، د علم، د دين، د عقيدې او زيات نور مفاهيم تاسو همدا اوس په خپل تخيلي ځواک او ذهني خلاقيت تجربه کولی شئ. اما، ګټه يا ثواب يا فايده او يا هم اجر هغه مفهوم دی چې تر ټولو زيات په دې کشېدلو او غورځېدلو اخته او بلد دی. يو عالم په آسانه سره کولی شي چې دا کره مغالطه وکړي او ووايي چې تاسو ټول يوازې په مانځه ادا کولو اجر ترلاسه کولی شئ. دا د الفاظو وړکي کول او محدودول دي. زمونږ د مدرسو ښوونکو او عالمانو دغه مفاهيم شديدا اخروي کړي دي. دوي د اجر په معنا کې يوازې نامرئي څيزونه، اخروي فوائد، غيردنيايي برکتونه او هغه حالتونه شامل کړي دي چې د توصيف او تجربې وړ نه دي. ځکه خو د يو ناپېژندونکي وضعيت په لټه کولی شي خپل واقعي ارزښتونه توهين او سپک کړي. دوي دې لږ متوجه شي چې دا کار د نورو مفاهيمو په هکله هم ممکن دی، نه کوم کمال دی او نه کوم واقعيت! په دې توګه دلته هم د عقلانيت د نه ودې زمينه برابرېږي. ځکه مفاهيمو کې آزاد لاس لري.

**٧. انسان ضعيف دی! د انسان په هکله ضعف، ګناه، بدی، طغيان، رټنې او شيطاني وضعيتونه بيانېږي.**

تاسو به تر اوسه د يو ديني عالم له خولې هم نه وي اورېدلي چې جنت او دوزخ يو مخلوق دی او ملک او شيطان هم مخلوق، بيا نو څنګه اشرف المخلوقات د دغو نورو مخلوقاتو په لوري د تمايل، احتياج، قربانۍ او ځان تېرېدنې ارادې ته اړمن دی!؟ دا ځکه نه مطرح کېږي چې انسان ضعيف ښوودل کېږي. يوازې د قرآن په هغو ترکيبونو او يو څو مشهوره شويو مانايي تعبيرونو او ژباړو خبرې تکرارېږي او فرضيه جوړېږي چې توهين او تحديد او تهديد پکې زيات دی. دوي نه شي کولی د انسان په رابطه د جرئت، پاکوالي، تقدم، لوړوالي، استحقاق، ګرانښت، اړيکو او عاطفې هغه سترې مسألې مطرح کړي چې مخاطبين او مسلمانان ورسره ځواکمن کېږي. امېد مومي او د خپل ځان د روزنې او ودې هڅې ورته مانااره کېږي.

دوي د يوې خاصې ارزښتيزې ټولګې چې مفروضاتو او مخکنيو باورونو په بنه را ټولېږي، په هکله مجبور دي ځانونه عيار او همغږي وګڼي. په دې ترتيب سره د يوه منفي او بدبينانه ليدلوري سره ګير پاتې کېږي. له هغه ځايه انسان داسې يو موجود ګڼي چې له هرې خوا تر فشار، تهديد، هدف او تعرض لاندې دی او د ده ستر کارونه او ټول عمر عبادات به دومره هم نه شي چې دی له دوزخه خلاص کړي، دی د شکر مرتبې ته ورسوي او دی به په ټول عمر کې د خدای باج ورکوونکی موجود پاتې وي. په دې ترتيب سره دا افکار د ټولنيز عقلانيت پر مخ په ودې وجوهاتو باندې منفي اغېزې لري. دوي پر ټولنه بار پاتې کېږي او کار يې د همدغو تصوراتو سره ښکېلتيا او دروني عذاب ويستل او له چاپېرياليز چلند او نورو سره په اړيکو کې خنثی کېدل وي. تاسو کولی شئ دغه وضعيت د مدرسو په هغو ځلميو او ښوونکو کې وګورئ چې خپل زيات وخت په دغه افکارو تېروي او يا يې د درس مضامين په څو اونيو کې همدغه موضوعات وي. دوي په زياتو عادي او عمومي ټولنيزو اړيکو کې هم د يو ضعيف العقل موجود په توګه چلند کوي.

**دويم: د ټولنيزو شرايطو برخه،**

**١. مدرسه‌يان په هغو شرايطو کې ژوند کوي چې ځوابونه زيات دي تر پوښتنو.**

دا بحث پورته هم په مفروضاتو کې مطرح شوی دی. هلته د مفروضاتو له اړخه او دلته د شرايطو له اړخه بهرني امکانات داسې برابر وي چې دوي ورسره تعامل کې خپل ځانګړو چلندونو ته ور رسېږي. دا چې شرايط څنګه او څومره کولی شي عملا څوک وهڅوي دې فورم پورې اړه لري چې د چلندونو د ايجاد شرايط مخ په وړاندې او راتلنغوښتنې سره همغږي وي. شرايط که هرڅومره هيله‌منتيا منځ ته راوړلی شي همغومره د پوښتنو او ناثابتو ارزښتيزو حوزو اعتبارپوهېدنې او پراختيا ته اړتيا ليدل کېږي. هر څومره چې څوک د دنيا د بدلون، عيارولو، کارولو او ټولو شرايطو او امکاناتو د برابرولو فکر او نيت لري، دی د خپل فکري او احساسي جوړښت له مخې د هغو کسانو څخه دی چې فعال دی او مخ په امېد دی. دی پوښتنې لري، د اطلاعاتو د منځ ته راوړلو او موندلو اړتيا احساسوي، ضرورت لري او بالآخره د بهبود او ښه کېدو پسې دی. معمولا داسې کسان هم کولی شي د ټولنيز عقلانيت د ډول ډول شرايطو د تجربو لپاره چمتو وي. هغه کسان چې موخو ته ځان رسېدلی او دنيا تسخير شوې او هر څه ګټلي ګڼي، د څو ډوله ستونزه سره مخ دي چې يو خطرناک ډول يې همداسې عقلي پاتې راتلنه ده. هغه کسان چې ځان له پورې را دې خوا ګڼي او فکر کوي چې دنيا همدومره ده چې دوي تجربه کړې او احساس کړې ده او ټولې چارې د خپل ژوند په حوزه کې اساسي او اصولي مومي، يا رنځور دی او يا هم سخت له عقلي اړخه نارسه پاتې شوی دی. افسوس دی چې زمونږ ځوانان په مدرسو کې له دغه شان وضعيت سره نارسه او بې ودې پاتې شي.

**٢. که وغواړي تغيير راولي په ظواهرو او شکلونو کې يې راوړي نه افکارو او ليدلورو کې.**

مهمې تجربې په دې برخه کې دا دي چې معمولا فکر کېږي که شکل يو څه ته ورته شي نو محتوی هم همغه شکل ته ورته شو. معمولا دغه تمه دلته زياته کېږي چې يو څوک دې داسې عمل تر سره کړي او داسې دې نه ترسره کوي، حال دا دی چې د هغه عمل نه وړاندې آند او فکر د عمل زېږوونکې پديده ده، څنګه کېدلی شي چې عمل سر ته ورسېږي او پرې قضاوت وکړی شي خو ذهنيت ورته مخکې نه وي جوړ شوی!؟

بله ډېره واضحه او څرګنده ننبانواله دا ده چې معمولا د معنويت او باطني خواصو او اخلاقي ارزښتونو د لېږدل لپاره ظاهري عيارېدل اصل ګڼي. دوي نه وايي چې ظواهر دې همداسې وي خو باطني او معنوي اړخ بايد په پوره معنا انساني او اسلامي او پيغمبري شي. دوي په دې تمرکز کوي چې کله ظواهر عيار شي نو غيرظاهري موارد ټول عيارېدلی شي. دا ښت معکوس فرمول دی چې د معنوي سمون په قصد د رنګ او دستار او ږيرې او تسبو په شکلونو او مقدار کې بدلون راشي!. که تاسو وغواړئ چې يو مدرسه يي ځوان درته د چا د باطن او داخلي بهيرونو په رابطه کومه ستونزه حل کړي نو طبعا بله هېڅ لار نه شي درلودلی او يوازې پر ظاهري او سطحي عواملو تأکيد او تأييد کوي او ګوته ږدي. دا عمل پخپله د عقلاني وضعيت ښوودنه او ساتنه کوي.

**٣. آرمانپالنه د واقع‌پالنې په ځای.**

د ژوند د واقعیتونو دقیقې کتنې، پاملرنې او د سمو لاملونو د درک روش ته واقع پالنه ویل کېږي. دا د ټولنیز ژوند لپاره یو ابژکتیف لیدلوری دی. په دغه ډول نړۍ لید کې وګړی تر زیاته بریده پورې تماشا کوي او خپل عواطف او شخصي سلیقه د پدیدو په بهیر کې نه ورشمېري. له وضعیت د آرمانپالنې سره برابر وضعیت نه دی. هلته یعنې وګړی د یوې پدیدې په تصور او ذهني جوړونه کې خپل ذهن دومره کاروي او ورسره ښکېل شي چې بیا یې لیدلی نه شي. وګړی د دغه شان تعامل په بهیر کې تر ډېره بریده هوارېږي او ګډېږي.

دغه لید وګړي داسې روزي چې د واقعیتونو په وړاندې قانع نه شي او په ښکاره داسې تعبیرونه وړاندې کړي چې خلاف وي. په زیاته آسانه توګه استدلال وکړي چې شپه ورځ ده او ورځ شپه!

مدرسه یان کولی شي په آسانۍ سره له واقعیتونو واوړي او خپل آرمانونه مخکې راوړي او تفسیر او تعبیرات یې وړاندې کړي. دوي د همدغه وضعیت ښکار دي او تل به وجودي او اعتقادي قرباني ورکوي. د مفاهیمو معناګانې به چپه واخلي او د تعبیرونو او تفسیرونو له درنو او اوږدو توجیهاتو به ځان ستړی کړي او دا ټول به عبادات وګڼي.

### ٤. د تفکر لپاره ژبه نشته؛ منطق د ودې او آزمایش لپاره مفاهیم، خلاصې اړیکې او زمینې نلري.

*لوسین فور* (۱۸۷۸- ۱۹۵۶) په دې باور دی چې د هرې ټولنې داخلي ـ جزئي خوځښتونو ته په پام سره دا فکري توان پیدا کېدلی شي چې خلک پوښتنې وکړي. دی د شپاړسمې پېړۍ غربي ټولنه د واضح تفکر او پراخ او اغېزمن درک له مخې څېړي. دی وایي:

> د فلسفي او منطقي اړخه د لاندنیو الفاظو او اصطلاحاتو نشتون د تفکر او عقلانیت د واقعي نشتون او عیب درلودلو ښکارندوويي کوي. دا اصطلاحات وه لکه: نسبي او مطلق، انتزاعي او واقعي، ذاتي او عمدي، ترانسندانتیل یا تر وګړنیز حالت ورآخوا؛ دا شان ځینې نوم‌ستایونه لکه علت، انتظام، مفهوم، معیار، تحلیل، ترکیب، قیاس، استقراء، همغږي او طبقه بندي. د اولسمې پېړۍ تر نیمایي پورې فرانسې د عقلپالنې یا رشنلیزم اصطلاح نه پېژنده، ډیټرمینیزم یې هم نه درلود او شکاکیت چې د لمړي ځل لپاره ډېږرو کارولې اصطلاح ده هم نه وه. فرانسویانو د خپلو افکارو او پوښتنو او ذهنیتونو د ښودلو په خاطر او د استدلال، تبیین او اثباتولو لپاره اصطلاحات نه درلودل نو ځکه یې تفکر هم نه وه موجود.

لوسین فور، په شپاړسمې پېړۍ کې د یو باور مسأله، ۲۱۷ مخ.

د منطقي ممثلیت او اِعمال کیفیت د بېلابېلو تجربي میدانونو تکراري غوښتنه کوي. دا تکرار هم باید لږ تر لږه یو څو اړخیزې اړیکې سره وتړي او درلودلې یې وي او له بلې خوا دا پر لپسې اړیکې دا مجال ورکړي چې خپل ذهني فعالیتونه له چاپېریال سره په واقعي او ملموس ډول درک کړي، بیان یې کړي او سره شریک یې کړي. مفاهمه پرې وشي او د نقد او تجزیې او تحلیل سنجونیز کوششونه څرګند شي. دا هغه مهال وي چې یو وګړی وکولی شي د آزادۍ په کارولو سره خپل ذهني تقویم او سنجونیز فعالیت له نورو سره په تراو وچاري. دا همغه منطق دی او د ښه ټولنیز فکر کولو زمینې پکې دي. دا که نه وي نو ټولنیز عقلانیت لپاره د ودې او پرمختګ زمینې نشته. نو ځکه دا خلاص میدان هغه مهال چې د وګړو یو شمېر بدلو ارزښتونو باندې تجربه کېږي ګورو چې په خلاصه فضا کې مفاهیم ښه لېږدول شوي او یو د بل نه درک بل شکل وي. دا همغه ځای دی چې منطق کارول ممکن کېږي او عقلاني وده هم میسره، اما اصلي مسیر او میکانیزم ورته د آزادۍ تعریفول او آزادۍ منل دي. کله چې په خاصو معناګانو سره د آزادۍ او خپلواکۍ یو شمېر ځانګړي احساسات نو دا زمینه برابرېږي چې د منطق د کارولو جرئت او فکر پیدا شي. بیا نو په عمومي توګه د ټولنیز عقلانیت د ودې زمینه برابرېدلی شي. دا منطق او آزادي چې د منطق او عقلانیت د کارولو او پیاوړي کېدو زمینې لري په مدرسه یي چاپېریال کې د ناسم او غیرشرعي فضا په نامه مشهور او غیرمجاز دی، ځکه خو عقلانیت هلته وده نه شي کولی.

### ۵. عقلي وده په ديالکتيک صورت ممکنه کېږي.

د ذهن او عين مسأله يا د زده کړو په بهير کې د تصوير او مفهوم مسأله د عقلانيت خاصو درجاتو او اړخونو ته اشاره کوي. د زده کړې ځينې روان پوهان باور لري چې دغه بهير له پيله د روښونو له ستونزو سره مخ وي، بيا چې يو څه مختګ وکړي د ښودلو او پاښولو له څرنګوالي سره مخ وي. د روښونو ستونزې د زړه کړې پر مهال هغو پېچلو مفاهيمو او ساده تصويرونو ته اشاره کوي چې په خاصو عمرونو کې د عقلي ودې له اړخه ورسره مخ کېږو.

*لوی براول* پر انځوريزې ژبې زيات تمرکز کوي او هغه د ابتدايي عقلانيت سره برابر بولي. دی دغه ټکی داسې را ښيي:

> ابتدايي ذهنيت له مفاهيمو سره کار نه لري، بلکې له تصويرونو سره سروکار لري. د تعقل لپاره يې توکي انځوريز دي، د بيان ميتود يې هم تصويري او له تصوير سره خامخا احساسات په جدي توګه جاري وي.

**لوسين لوی براول، د ذهنيتونو مسأله، ۱۹مخ.**

دا انځورونه ښايي تصورات واوسي او خيالي جوړ کړی شي، ښايي په شاوخوا جهان کې په ذهني ځواک سره عکاسي شي. يو شمېر ارزښتيز بحثونه د انځورونو په لاس را درنېږي. يو انځور په ذهن کې د منل شوي وګړي جوړېږي او بل هر څوک چې هغه تصوير ته ورته صورت يې نه درلود هغه نه منل کېږي او چلند ورسره بايد بدل شي! دا تفکر په جدي توګه ټول مدرسه يان را کاروي.

د چاپېريال، شرايطو، وګړو او وجود سره په ډيالکتيکي تجربو کې د عقلاني ودې زمينه برابرېږي. کله چې له چاپېريال سره اړيکې ناسمې او يو اړخيزې او مرموزې وي دنيا يو ځانګړی ځای مومي او خاصو شکلونو کې خپل پيغامونه را لېږدوي. د هغو سالمو او ګټورو اړيکو کيفيت او کيميت را کمېږي چې په وګړو کې لازم بدلونونه راولي.

شرايط هم دياليکتيکي صورتونه لري او ځينې څه په خاصو ضريبونو کې تعامل او هستي او عدم ته رسېږي.

وګړي په ټولنه کې د اړيکو د تعدد له وجې مختلفي فکري او ذهني زاويې د تجربو ميدان کې خپلوي، ځکه دا کولی شي د وګړو پر ټولنيز عقلانيت باندې مثبتې اغېزې ولري.

وجودي مسأله هم همداسې ده. هېڅ وجود نشته چې د نورو وجودونو سره په ارتباط کې ځان تعريف او څرګند نه کړي. دا څرګندتيا پخپله نسبي، متغيره او کيفي ده. د بدلېدو په حال کې او همېشه پر جدي تعامل متمرکزه ده.

بله مهمه خبره دا ده چې که ټوله فضا کې ورته والي خواته تمايل زورور وي نو د عقلي ډيالکتيکي ودې امکان را کموي، هر څومره چې د توپيرونو د منلو زمينه پراخه وي نو هلته د بېلابېلو عقلاني تجربو ډګرونه د عقلاني ودې تضمين کولی شي.

## پرتله او نمونې

❖ **قرآن ته په کوم نظر کتل کېږي؟**

مدرسه يان او ځينې ستر علماء د خپل عمل او پوهې په ځواک دا ښيي چې قرآن د دوي له پوهې سره برابر کتاب دی. دوي د خپلې ذهني او خامې عقلي تجربې سره د قرآن په رابطه لوبېږي. دوي د خپلې پوهې او انتزاع او تخيل ښکار شوي دي. زه په صراحت سره دا وايم چې عملا قرآن ته ستر توهين د دوي په دريځونو کې څرګندېږي. دوي داسې انګېري چې قرآن همداسې چې زه يوه شوم بايد تطبيق شي او ځکه چې زه پرې باور لرم نو بايد ويې ستايم! دا ستاينې ټولې له يو غلط خو غالب پاراډايم نه سرچينه اخلي.

ما په پوهنتون کې له نژدې نه نوي محصلانو دا اورېدلي چې قرآن د الله قانون دی! دا ستره تېروتنه هم د دوي لپاره يوه عملي او د نهيليستۍ په لور د غورځېدلو يوه پيلامه ده او هم د نورو نژدې انسانانو د ژوند اسلوب ته ګواښونه. په دې اړوند څو لنډې خبرې لرم:

- **ځان‌نه‌خبراوی (ناخودآګاهي) د عمل، پوهېدنې، ذهنيت او ټولنفکرۍ په رابطه اغلاط منځ ته راوړي.**

دوي قرآن ته له هغه ځايه راځي چې ګواکې تطبيقول يې په ځان او په نورو پيل غواړي او آسانه ده او مسؤليت لري. په دې ترتيب سره له يوه ستر ميدانه چې د قرآن د سمې پوهېدنې ميدان دی او د هغو سترو او سپېڅلو انساني مرامونو له واقعيتونو اوړي کوم چې قرآن پرې متمرکز دی او همېشه يې ښوودنه او توصيه کوي. مدرسه يان د دې لپاره چې يو ډول ژورې بېخودۍ او له ځانه پردي توب را اخيستي دي، هغه څه ترسره کوي چې ګومان کوي پرې پوهېږي خو اصلا د معرفت پېژندنې له نظره يې امکان په بېخي اقل کې دی. هر هغه څوک چې د قرآن د پوهېدنې او بيا عمل کولو ادعا لري هغه که د ګوتو په شمېر له څو بنسټيزو پوښتنو سره مخ شي نو هرو مرو را غورځېږي او د قرآن په رابطه يې باور او ليد بدلېږي. د قرآنپوهنې اړوند ذهنيت بېخي خراب دی. خلک له قرآنه هغه څه غواړي چې بايد يې له ځانه وغواړي او په ځان هغه څه کوي چې بايد په قرآن يې وکړي.

- **ستره خطا دا ده چې د قرآن د پوهېدنې او عمل کولو تر منځ چې د عقلاني ودې ځای دی، هېڅ واټن نشته!**

داسې ښکارېږي چې له پوهېدنې سره جخت په قرآن بايد عمل وشي، او عمل کول هم له ځنډ پرته ممکنه ده. دا باور يو شمېر زيات قرآن-باوري دې ته رسوي چې د عمل او علم تر منځ بريدونه ونه ګوري، يوازې سره نښتي يې وګڼي او له علم سره عمل د فرضو په نامه کفر ته وباسي! زما په آند دلته ستر اصل له پامه غورځول شوی چې د پوهېدنې اصلي بهير او پروسس يعنې د عقلاني ودې او انساني درک؛ دا ټول چېرې کېږي او کله کېږي. له بله اړخه دا پخپله د قرآن له حکمه سرغړونه ده.

نن ورځ د متن جهان، د ذهن جهان، د پوهېدنې بهير، د ظرفيت جهان، د ارتباط دنيا، د لوستونکي جهان، د اهدافو جهان، د لوستنې جهان، د تشخيص او تدقيق نظام، د ژبې جهان او بالآخره د ژبنيو تصويرونو، مفاهيمو او تفسير او تعبير جهانونه مطرح دي. دا ټول د پوهېدنې په جريان کې زده کړيال تر اغېز لاندې نيسي. دا هغه څه دي چې يو مدرسه يي هم نه ترې خبر دی، نه يې نوم ويلی شي او نه يې ليکلی شي! خو بيا د قرآن د تطبيق او عملي کولو په رابطه په راحته حکم کوي، عمل کوي او ادعاوې يې خلک د کفر په دښته کې ګوري!

- **دا ليدلوری په ځينو مخباورونو کې په زيږ ډول سره تر سترګو کېږي چې ټول علوم په قرآن کې شته!**

دا يوه باوري ادعا ده نه عملي! دلته خو د دغې خبرې د پوره نقد او تفصيلي بحث ځای نه دی مګر په دې رابطه به هم مناسب وخت کې څه ليکم. دوي د نظر او باور له مخې قرآن د ټولو کتابونو مور او پلار بولي. د ټولو علمونو او پرمختګونو اصلي فورمولونه په دې کې ګڼي. مګر د عمل له مخې په دې خاطر چې دا وضعيت نه شي ثابتولی، په ډېر ساده او زښت غورځېدلي حالت کې واقع دي. دوي د خبرو او عمل تر منځ دوه چيرې دي. بن‌بست يې دا دی چې فکر کوي د عمل په ډګر کې که ومني چې نه کېږي نو باور ته يې خدمت نه دی کړی! دا داسې مانا نه لري چې قرآن يو بې ځايه کتاب دی، مګر د دغه شان ليدلورو په اړوند کره نيوکې دي چې له قرآن سره تشريفاتي چلند کوي، په يادولو او تکرار يې آرماني مخاوی ورسره کېږي او بالآخره د قرآن په رابطه د عقل کارونه په دې را خلاصوي چې نقل اصل دی! خو زه نه پوهېږم چې د همدغه نقل پوهېدنه، باور کول، تعقيبول، تطبيقول، په پام کې درلودل، احتياط کول او .... له کومه ځايه په بې عقلۍ کې موندل کېدی شي!؟

### ❖ انسان او جهان

لکه د قرآن په رابطه شوې خبره د انسان او جهان اړوند هم ارزونيزه او ارزښتيزه ده. دلته هم جهان يو ګونګ مفهوم ښودل شوی، کله د طبيعت، کله د وجود، کله د مادي توکو او پيسو لپاره کارول کېږي. معمولا زه که وغواړم د مدرسو په فضا کې د دنيا د مفهوم ځای‌پېژندنه وکړم نو جالبه به وي چې بدمرغي، پستي، بېزاري، ګناهځی، د بدو خلکو وطن او بالآخره يو سبک او غيرضروري هستي ښوودل کېږي. دا نه يوازې زده کوونکي بلکې د استادانو په مثالونو کې راځي. هغوي دې ته په وار وار اشارې کوي او د دنيا د دنائت خبره د دوي تر ټولو مهمه فکري ـ احترازي شتمني ده. د انسان په رابطه مولوي صيبان د قرآن هغه د يوه آيت مشهوره جهان بيني چې د حسن اعمالو آزمايښت په هکله فرمايي، را اخلي. دا د الملک سورت دويم آيت دی او د ابتلاء او آزمايش فلسفه زياته نورو ځايونو کې هم اوسېدلې ده. انسان اوس په ليدلوري کې يو د آزمايښت سره را ګير موجود په پام کې نيول کېږي.

په مدرسو کې د انسانپوهنې یا ذاتي او فطري انسان پېژندنې منظم او علمي بحث نه شته. په فقهي منابعو کې چې مدرسه یې نصاب یې په خپلو دورو کې لري، سخت ارزښتیز نظر غالب دی او د انسان اړوند ناسم لیدلوری حاکم دی. د ځینو اسلامي تفسیرونو له مخې د قرآن هغه آیتونه علماؤ زیات زیږ را اخیستي چې په نتیجه کې یې وچې او محض پیښې ته ور رسېږي. دوي زده کړې چې جهان د آزمایش جهان دی، او انسان یوازینی هغه څوک دی چې باید آزمایش ورکړي. په دغه آزمایش کې دی باید له هر څه نه تېر شي. د دغه لیدلوري یو جبري مخ‌باور دا دی چې انسان داسې خلق شوی چې که دی ټول عمر هم کار او زحمت او فکر وکړي، نه شي کولی حتی ځان وژغوري. دا هغه څه دي چې د ذهنیت له مخې انسان داسې یوې فضا کې فرض ګڼي چې ورته هر ډول چلند سره وېره او ډار په پام کې وي او د ځان د سرنوشت په رابطه یو ډول تلپاتې اندېښنه ورسره وي. دی هڅوي چې باید ځان خلاص کړي او د دغه خلاص لپاره هر ډول چلند ته آماده وي. نو د چلندونو په دنیا کې یې هېڅ څه او څوک خنډ نه شي ګرځېدلی. دا له اسلامي نظره یو اړخیز بحث دی، دیني انسانپوهنه داسې نه وایي او د انسان باورونو او غلطو انګېرنو ته څو څو ځله د دې اجازې د نه درلودلو یادونه کوي.

همدغه انسان او جهان پورې په واقعي معنا محتاج مدرسه یې، نن د بدو قضاوتونو هېڅ دریغ نه کوي. دی له هغه ځایه دنیا ته ګوري چې باید سترګې پټې کړي او هلته بیا ووایي چې غیر له بدۍ څه نه ګوري. که ښه څه هم ګوري ټول د ګناه په لوري خلک را بولي. پرهېز هغه څه دي چې د دنیا په رابطه معنا پیدا کوي. تر ټولو لوی پرهېزګار هغه خلک ګڼل کېږي چې دنیا ته په سپک نظر ګوري او د خدای ولي او دوست هم هغه بلل کېږي چې دنیا نه تښتي او خلوت او ګوښه ورته د جنت لار ښایي.

**دو کانالونه:**

| ګڼه | کومې ټولنې چې عقلانیت پکې وده کوي: | کومې ټولنې چې عقلانیت پکې وده نه کوي: |
|---|---|---|
| ۱ | پر تجربو متمرکز ټولنیز عقلانیت لري. | پر انتزاع ولاړ ټولنیز عقلانیت لري. |
| ۲ | عملي بدلون او مادي اوښتون یې نتیجه ده. | ذهني ګرفتاري او کاذب خوځښت یې نتیجه ده. |
| ۳ | ارزښتونه تر اغېز لاندې لري او د خپل ژوند لپاره یې کاروي. | تر اغېزو لاندې او د ارزښتونو لپاره خپل ژوند ترسره کوي. |
| ۴ | لږ تر لږه ورځنیو چارو کې ځان ارزونو سره واقعي بدلون ته چمتو کېږي، او غواړي چې بدل شي. | په ځان‌حق‌ګڼلو اخته وي؛ او څوک چې ځان حق بولي هېڅکله چمتو نه وي چې ځان وارزوي او یا بدل شي. |
| ۵ | د خپلو چارو او فکر نواقص مني او غواړي چې پرې وپوهېږي. | د خپلو چارو او فکر نواقص نه مني او کله چې پاتې راشي مرموزو خبرو: نظر کېدل، قسمت او تقدیر، طالع او د خدای رضا ... پورې خبرې تړي او پرې استدلال کوي. |
| ۶ | تغییر او بدلون د لاسونو په عملي کارونو کې ګڼي. | بدلون او ښه والی په لاسونو دعا کولو کې بولي. |
| ۷ | خپل اعمال پخپل واک پورې اړوند بولي او ګټو او مسؤلیتونو ته یې فکر کوي. | خپل اعمال له کنټروله وتي بولي او خپله اصلي دنده د خپلو اعمالو د اصلاح مسأله ګڼي. |
| ۸ | د فکري، معنوي او روحي ودې لپاره مادي پرمختګ یوه مهمه او ارزښمنه زمینه بولي. لمړی مادي چمتووالي مومي بیا فکري اړخ باندې تمرکز کوي. | د معنوي ودې لپاره شکلي او هنجاري ظواهر مهم بولي او مادي امکانات ټول غیرضروري او بې تأثیره ګڼي. دوي وایي معنوي پرمختګ دې بې له هر ډول چمتووالي وشي. |
| ۹ | دنیایي وده لازمه، ممکنه او د بریالیتوب ویاړ بولي. | مادي او دنیایي وده غیرضروري، موقتي او د شرم او ګناه ننبه بولي. |
| ۱۰ | پیسې او اقتصادي پرمختګ د ښه چانس او د خدای رحمت ننبه ګڼي. | دنیاداري او شتمنې د آزمېښتونو او الهي عذابونو مقدمات ګڼي. |

| | | |
|---|---|---|
| ۱۱ | خبرې ، افکار او نظریات غواړي تجربه کړي. | افکار او نظریات نه مني او خبرې په (ګڼلو او باور کولو) را ټولوي. |
| ۱۲ | د هرې پدیدې اصلي معنا ته پام کوي او وخت ورکوي چې پرې د پوهېدو شرایط او روشونه معلوم کړي. | خپله ذهني او شخصي معنا پر هرې پدیدې او د هرې پدیدې په هکله پر نورو تحمیلوي. |
| ۱۳ | په ټولنیز ژوند کې د نورو تر څنګ او په سیالۍ کې غواړي ځان پرمختګ او بریالیتوب ته ورسوي. | په ټولنیز ژوند کې د نورو په هکله قضاوت، خبرې او حکم کول یې بوختیا ده. |
| ۱۴ | خلک په زیاتو ډولونو وېشي او له هرې ډلې او ډلګۍ سره خپل ځانګړي روابط تنظیموي او عقل پرې حاکم وي. | خلک په دوؤ (مسلمانو او نامسلمانو) باندې وېشي، له مسلمانو سره خپلې اړیکې ارزښتیزې، له نامسلمانو سره اړیکې پرې کوي. |
| ۱۵ | عقلي دلایل او استدلال ارزښمن او عالي بولي او هوښیار انسان سره ناسته او خبره ورته د پرمختګ او شخصیت احساس ورکوي. | نقلي دلایلو باندې ځان پوه او خبر بولي او په یادولو سره یې چاته د استدلال او عقلي بیان حق نه ورکوي. له عقلمن انسان سره ناسته د (**منطقیونو**) په نامه له بې دینه انسان سره اړیکې بولي چې ګناه لري. |
| ۱۶ | د ژوند ټول شرایط او خپل مسائل نسبي بولي. | د ژوند او خپل مسائل ټول مطلق بولي. |

## نتیجه

د **لیسینګ** مشهوره وینا ده: «روزنه د وګړو لپاره وحې ده او وحې د بشر لپاره روزنه». د روزنې سیستم بې له شکه تر ټولو مهم هغه دی چې عقلاني وده ممکنه کوي. د ناسمو او غلطو جوړو شویو ذهني هیولاګانو او مفروضاتو له لارې د وګړو ټولنیز چلند سمبړي. هر یو وګړی د خپل ذهني وضعیت تر اغېز لاندې ځان ته موخې، روشونه او اسباب ټاکي او کاروي یې. بله خوا ټولنیز شرایط داسې فضا منځ ته راوړي چې هلته د ځانګړو اړینو تجربو امکان محدود وي، په دې توګه د ټولنیز عقلانیت د ودې چاره ممکنه نه شي.

هر څومره چې د مدرسې د ښوونځیو پر ځای انتخابوو، هر څومره چې د مدرسو نصاب په شخصي او ذوقي احساس او باور سره منځ ته راځي، د نسلونو عقلاني وده ناممکنه کېږي. نن د هرې مدرسې زده کوونکي د پوهېدنې له اړه حفظي او عکسي زده کړې سره ښه آشنا دي حتی تر ټولو لایق او وتلی زده کوونکی یې، ښوونځي د بېلابېلو ذهني او عملي تجربو د منځ ته راوړلو له لارې د ډیالکټیکي آزادې ارادې د کارولو زمینه برابروي. مدرسې ټولې تقریبا د تکرار روحیه له ځانه سري او د قناعت او تبعیت او ماتېدنې او توهین او حقارت او تحکم له خویونو سره لوئېږي. دا روحیه د راتلونکې لپاره او د ښه اجتماعي ژوند لپاره مناسبه او اړینه روحیه نه ده. د مدرسې زده کوونکي چې کله فارغېږي د ټولنیز سالم ژوند له ضد روحیې سره روزل شوی وي، او د خپلو شخصي او دروني شویو ارزښتونو له باور او پنداره ځنې ټوله نړۍ قربانولی شي. د مدرسو مدرسین، مهتممین او جوړوونکي دې د دیني عقایدو د ښوونې لپاره نوي او سالمه چاره پام کې ولري. ځکه نوره دغه ډول ښوونیزه لاره چاره سالمه نه ده او د نورو ژوند ته ګواښ بلل کېدلی شي. زمونږ هېواد او په سیمه کې د قربانۍ ځینې غبرګ او اوچت لاملونه همغه ذهنیتونه او مفروضات دي چې له مدرسې غوندې چاپېریالونو را پورته شوې دي.

## وړاندیزونه

۱. نوي نسل کې د سنجونو د تقویې نظامونو ته باید پام وشي. دغه سنجونیز نظامونه همغه فردي او شخصي منطقونه دي چې د کورنۍ، ټولنې او ښوونځي او مدرسې په چاپېریال کې له تعامل سره ترلاسه کېږي. د دغه تعامل او په دغه ډول اړیکه کې د ښې اخیستنې او په مثبتو اړخونو د تمرکز لارښوونې مهمې دي.

۲. آزادې تجربې او جهت لرونکې انګېرنې هم مرسته کولی شي تر څو یو کس د خپلو فعالیتونو له لارې د سالمو پیغامونو د لېږدالېږد پروسه تقویه شي او د پیغامونو د اخیستلو تر څنګ خپله آزاده اراده د پیغامونو د تحلیل، اخیستنې، انګېرنې او غبرګون ښودنې په بهیر کې وکاروي. دا همغه آزادي ده چې زمونږ ځوانان یې باید په خپلو مسائلو کې ولري.

۳. کورنۍ او کورنی چاپېریال کولی شي د نویو ځوانانو او نوي نسل د روزنې او عقلي ودې لپاره ګټور وي. که کورنۍ فضا آزاده کړي، د ماشومانو او ځوانانو سنجونیز ځواکونه ومني، هغو ته دا ډاډ ورکړي چې کولی شي مثبت واوسي. خپله ګټه پخپله وسنجوي او دنیا ته ارزښت ورکړي، ژوند ته توهین و نه کړي، د مشرانو احترام په خپل سرکوب او محو کېدو کې ونه ګوري. دا ډول کورنۍ کولی شي د عقلاني ودې زمینه برابره کړي. د ډېرو توکو او اشیاؤ درلودل، کارول، اجازه ورکول او تعامل ایجادول ټول کولی شي د ودې لپاره وي.

٤. ټولنیز شرایط او جوړښت ماتونه هم هغه څه دي چې لږ جرئت او د بدلون لپاره زیږ ګامونه غواړي. دا د هغو جوړښتونو په خلاف عمل کول دي چې په عرفي او سنتي او زړو مزاجونو ولاړ وه او نن هېڅ په کار نه راځي. دا اراده او جرئت کولی شي نوي جوړښتونه ایجاد کړي او په یو پرمختللي قالب کې ځوانانو ته د رول او فعالیت زمینه برابره کړي.

ټولې اداري، خصوصي او رسمي ښوونیز او روزنیز سیستمونه د خلاصو فضاګانو په درلودلو سره، د ځینو مشخصو نویو ارزښتونو پر سر د درېدلو او ځانګړو اعتبارونو منځ ته راوړلو له لارې د ټولنیز عقلانیت د ودې امکانات برابر کړي. د ښوونځي نصاب، د کورنۍ شکلي او محتوایي ذهني فضا، د روغتیایي مراکزو له لارې سالم او مثبتې چوپړتیاوې د نوي نسل د ذهني او مفروضاتو د سم جوړښت پر سر اغېزې لري چې ورسره عقلاني وده ممکنه کېږي. مونږ د لازمو او ځانګړو تجربو د لېږدولو له لارې چې په روزنیز او ښوونیز سیستم کې ممکن دي کولی شو عقلي ودې ته ورسېږو.

۵. رسنۍ کولی شي د خپلو ټولو خپرونو په مسیر، لاسته راوړنو او مستقیمو ټولنیزو بدلون راوړلو پر سر بیا کتنه وکړي. دلته د ښو او سالمو بدلونونو په موخه د ځانګړو اسبابو او مفاهیمو د انتقال له لارې کېدونې ده د عقلاني ودې لپاره زمینې برابرې شي.

٦. په فردي شکل هم کېدونې ده خپلې چارې داسې سمبال کړو چې زمونږ په وجود کې د عقلاني ودې او ټولنیزې هوښیارۍ نښانې او تعامل زیات شي. دا د امکاناتو او مقاصدو د ښه سالم او مثبت انتخاب له لارې ځرګندېږي.

## سرچینې


۱. عضدانلو، حمید: **آشنایي با مفاهیم اساسي در جامعه شناسی**، نشر نی، درېیم چاپ، ۱۳۸۸.

۲. چلبي، مسعود: **تحلیل نظری و تطبیقی در جامعه شناسی**، نشر نی، لمړی چاپ، ۱۳۹۳.

۳. روحاني، رضا: **دوګانګي بنیادین در نګرش به هستي** (دنیاګرایي و آخرت ګرایي)، ماهنامه ***حافظ***، ۲۳ مه ګنه، ۱۳۸۴.

٤. رابینګتون، ارل – واینبرګ، مارتین: **رویکردهای نظری هفتګانه در بررسی مسائل اجتماعی**، د ډاکټر رحمت الله صدیق سروستانی ژباړه، د تهران د پوهنتون نشرات، اووم چاپ ۱۳۹۱.

۵. في، برایان: **فلسفه امروزین علوم اجتماعی**، د خشایار دیهیمي ژباړه، د طرح نو نشرات، شپږم چاپ ۱۳۸٦.

٦. شارون، جوئل: **ده پرسش از دیدګاه جامعه شناسی**، د منوچهر صبوري ژباړه، نی نشرات، دیارلسم چاپ ۱۳۹۳.

۷. برلین، آیزایا: **سرشت تلخ بشر**، د لی‌لا سازګار ژباړه، ققنونس خپرنه، دویم چاپ، ۱۳۸۷.

۸. پوپر، کارل، **جامعه باز و دشمنان آن**، جلال الدین اعلم، نشر نی، څلورم چاپ، ۱۳۹۰.

۹. **کارل پوپر و عقلانیت اقتصادي**، مجله تخصصی معرفت، ۱۳۷۷.

۱۰. محمد رضا جوادي یګانه، **نظریه انتخاب عقلاني**، ۱۳۸۹.

۱۱. آتام، تورګوت، مهدوی، حسن، تحول **دینی ـ اجتماعی در ترکیه**، مجله تخصصی تاریخ جهان اسلام، سال ۲ شماره ۴ صفحات ۱۲۳ الی ۱۴۵، ۱۳۹۳.